# خلجيان او غلجيان

# Khilji And Ghilji

Abdul Bari Jahani [1]

Pakhtun is one of the ancient nation of the world. Their history goes back to 5000 years. There are different opinions about the origin of Pakhtuns. One group call them Israel and the other group call them Aryans. Internally this Nation is consist of different tribes, some tribes among them are small and some are big. One tribe among them is Khiljee or Ghilgee. This paper is a research about this tribe and it has been proved that this is a distinguish Pakhtun tribe of this nation.

خلجيان له ډېر پخوا زمانې څخه د افغانستان په خاوره کښې اوسېږي او په ډېرو پخوانيو وختونو کښې ئې له ګرمسېر او سيستان څخه نيولې تر غور، غزني، زابلستان او د کابل تر شاوخوا سيمو پورې ځمکې نيولې وې. د خلجيانو له نامه سره، څوځله، د اصطخري په کتاب مسالک و ممالک کښې مخامخ کېږو، چې د لسمې مېلادي پېړۍ په نيمايي کلونو کښې ئې ليکلے دے او دا يوله تر ټولو پخوانيو آثارو څخه دے چې د خلجيانو يادونه کوي . دے ليکي « خلج د ترکانو قوم وۀ او په ډېره پخوانۍ زمانه کښې دغو سيمو ته راغلي دي. د هندوستان او د سيستان په سيمو کښې ئې هستوګنه غوره کړه. دوي د ترکانو په شکل دي او د ترکانو په څېر لباسونه اغوندي او ټول په ترکي ژبه خبرې کوي.» ( اصطخري ص ۱۹۶ )

دا چې خلجيان به څه وخت افغانستان ته کوچېدلي وي، تاريخي متون چندانې څه نه وائي، خو اصطخري خپل کتاب د غزنويانو له پاچهي او امپراطوري څخه مخکښې ليکلے دے او مونږ ته وائي چې دوي په قديمو زمانو کښې دې سيمي ته راکوچېدلي دي .

د خلجيانو د کوچ او د هغه وخت د تاريخي پېښنو په باب بيا هم معلومات نه لرو او که سړے دا خبره په يقين سره ومني چې دوي له بلې سيمې څخه را کوچېدلي دي نو سړي وئيلےشي چې ښائي د شمال څخه ئې په سوله ايز ډول له خپلو رمو او څارويو سره کوچ را کړے وي . بيا هم تاريخي متون

1 A prominent Pashto Scholar, a renowned Pashto, Novelist and Historian of Pashto

دونه راته وائي چې خلجیانو او نورو کوچي قومونو په پراخو دښتونو کښې ځایونه نیولي او رمې ئې څرولې . (هغه کتاب ص ۲۱۶)

بوسورت هم وائي چې د اسلام په لومړیو کلونو کښې ترکانو، خلجیانو او غوزانو په اوسني ختیځ افغانستان کښې د کابل، غزني او بُست ترمنځ ورشوګانو کښې مالونه څرول .( بوسورت ص ۲۰۶ )

بل ځاي لیکي چې اوغوز او خَلَج تر کان، چې د اسلام په اوایلو کښې له ترکستان او بدخشان څخه له شمال څخه تر بُست پورې سیمو ته تللي دي ښائي د هغو ترکي خلکو بقایا وي چې د اکسوس له شمال څخه د یفتلیانو د قومي اتحاد د یوهٔ ګروپ په څېر را کوچېدلي او وروسته د افغانستان په شرقي سیمو کښې پاتې شوي وي . بوسورت لیکي چې خلج، د یوهٔ قومي اتحاد په توګه، څو قرنونه په خپل قوت پاتې شول؛ تر څو چې سبکتګین غلبه ورباندې وکړه او دوي ئې په خپل پوځ کښې برتې کړل . دوي وروسته د غزنویانو، غوریانو او خوارزم شاهیانو د پوځو نو یوه مهمه برخه شوه. بوسورت وروسته ادعا کوي چې همدغه خلج د ډهلي د لودي سلطانانو ( ۱۴۵۱- ۱۵۲۶) نیکونه دي او نن ورځ په افغانستان کښې د غلجیانو په نوم اوسېږي .

البته نه بوسورت او نه اصطخري مونږ ته وائي چې خلجیانو کله او چېرې په تُرکي ژبه خبرې کړې او په دې باره کښې کوم تاریخي شواهد موجود دي . له بلې خوا اکثر پخواني تاریخي متون، چې د افغانستان په پراخو سیمو کښې د دې قوم یادونه کوي، نو د خلجیانو سره د تُرکانو نوم هم یادوي . د دې معني دا ده چې ان د اسلام په لومړیو کالونو او پېړیو کښې دا دوه قومونه سره بېل ول او په مهمو تاریخي حوادثو او جنګونو کښې ئې څنګ پر څنګ برخه اخیستې ده . دغه راز هېڅ تاریخي متن، د اوسني افغانستان له پراخو ورشوګانو او ښارونو څخه دباندې، په بله سیمه کښې د خلجیانو د وجود په باره کښې مونږ ته څه نه وائي . دغه راز پخواني تاریخي متون، چې وروسته به اشاره ورته وکړو، له سیستان څخه د کابل تر شاوخوا سیمو پورې، د خلجیانو د پراخو اولسونو، لښکرو او جنګیالیو مېړنو په باره کښې، مونږ ته اطلاع راکوي؛ او له دې څخه مونږ په څرګنده قضاوت کولے شو چې دونه لوئې قوم، چې ان د اسلام څخه مخکښې راهیسې، په دونه پراخه سیمه کښې اوسېدلے وي، باید د دې سیمې ځاے او بومي اوسېدونکي وي . ځکه هېڅ تاریخي متن مونږ ته نه وائي چې دونه لوئې قوم، چې له

سیستان څخه تر کابل پورې سیمې ئې نیولې او د عربو له جنرالانو څخه نیولې، تر یعقوب بن لیث، سبکتګین او سلطان محمود په څېر غښتلو جنرالانو او پاچاهانو سره مقاومتونه کوي، کله او په کومه زمانه کښې له تُرکانو څخه ځانونه بېل کړي دي چې وروسته تقریبا ټول تاریخي متون د خلجیانو، تُرکانو او غوزانو نومونه بېل بېل یادوي .

مسعودي، چې د درېمې هجري پېړۍ تر نیمائي پورې ئې ژوند کړے دے، او لوېدیځ مورخین ئې د عربي نړۍ هیرودوټس بولي، لومړنے اسلامي مورخ دے چې د خلجیانو او د هغوي د اوسېدلو د سیمې په باب معلومات راکوي . مسعودي لیکي چې حجاج د سیستان او بست او رُُخَج حکومت عبدالرحمن بن محمد بن اشعث ته سپارلے وۀ او هغه د ترک، غوز او خلج له طایفو سره چې هلته اوسېدل او هم ئې د هند له ملوکو سره، چې د دوي په ګاونډ کښې پراتۀ ول، لکه رتبیل او نور، جنګونه وکړل . (مسعودي ص ۱۳۴)

عبدالرحمن بن اشعث په دې سیمه کښې له خوارجو سره ډېر سخت جنګونه وکړل، هغوي ته ئې پرله پسې ماتې ورکړې او دونه قدرت ئې پېدا کړ چې د خلیفه څخه ئې بغاوت وکړ او د هغه نوم ئې له خطبې څخه لیرې کړ. له ابن اشعث سره دونه لښکر ملګرے وۀ چې حجاج له خلیفه عبدالملک څخه مرسته وغوښتله او هغه ته ئې ولیکل چې یا خدایه کومک! یا خدایه کومک! یا خدایه کومک! او خلیفه هم مرستي ور ولېږلې او په جواب کښې ئې ورته ولیکل چې یا لبیک! یالبیک! یا لبیک!

د حجاج او ابن اشعث لښکرې په ۸۲ هجري قمري یا ۷۰۰ مېلادي کښې د کوفې د ښار په شاوخوا کښې د دیرالجماجم په سیمه کښې سره مخامخ شوې او څو اتیا جنګونه ئې سره وکړل . په دې جنګونو کښې بالاخره ابن اشعث ماته وکړه او د هند د ملوکو خواته ورغے . حجاج بالاخره هغه له منځه یوور او سر ئې خلیفه ته واستاوۀ. (هغه کتاب ص ۱۳۵)

دا چې ابن اشعث د دیرالجماجم په جنګونو کښې له ماتېدلو څخه وروسته بېرته د هند د ملوکو خواته، چې د ترکانو، خلجیانو او غوز د اوسېدلو سیمې ئې تر کنټرول لاندې وې، ورغلے دے نو دا لرې خبره نه ده چې د حجاج سره په جنګونو کښې به ئې هم له دغو قومونو څخه کار اخیستے وي.

له ټولو تاریخي متونو څخه قضاوت کولے شو چې خلجیان غښتلي او جنګي خلک ول او د غزنویانو، غوریانو او د ډهلي د لومړنیو مسلمانو سلطانانو په لښکرکښیو کښې ئې ډېره زیاته ونډه اخیستې ده. بوسورت لیکي چې د خَلَج قام ډېرې نورې پېړۍ خپل قومي هویت وساتے، سبکتګین د هغوي مقاومتونه مات کړل، په خپل پوځ کښې ئې برتي کړل او هغوي وروسته د غزنویانو، غوریانو او خوارزم شاهانو د پوځونو ډېره مهمه برخه شوه. دوي د ډهلي د لودي پاچاهانو نیکونه دي او نوم ئې اوس د غلجي افغانانو په حېث ژوندے پاتې شوے دے . (بوسورت ص ۳۶)

البته مونږ د سبکتګین څخه څه باندې سل کاله مخکښې د یعقوب بن لیث ( ۸۴۰- ۸۷۹) د پاچهي په وخت کښې له هغه سره د خلجیانو د زورور مقاومت او پراخو لښکرو سره مخامخ کېږو. په تاریخ سیستان کښې لولو چې یعقوب بن لیث د رُخد نیژدې شاوخوا ته ورسیدے او د زنبیل زوے ماته وکړه او وتښتیدے او کابل ته پرشا شو . یعقوب د هغه په تعقیب تر حاساب ( د تاریخ سیستان له متن څخه د حاساب موقعیت نه څرګندېږي ج ) پورې ولاړ، مګر څرنګه چې لارې د واورو له لاسه بندې وې نو بېرته سیستان ته ستون شو. یعقوب په لاره کښې ډېر زیات خلج او ترکان قتل کړل او له هغوي څخه ئې ډېر زیات غلامان ونیول، چې سُبکري یو له هغو غلامانو څخه وو.( تاریخ سیستان ص ۲۱۵ )

له دې بیان څخه ښکاري چې خلج او ترکان، چې د کابل شاه یا زنبیل، یا رتبیل ملګري دي، تر دغه وخته پورې لا مسلمانان شوي نه دي. ځکه چې یعقوب بن لیث له هغوي سره د مسلمانانو په څېر سلوک نه کوي، بلکه بې رحمانه ئې قتلوي او د غیر مسلمانانو په څېر ئې غلامان کوي .

تاریخ سیستان د یعقوب بن لیث د کشر ورور عمروبن لیث په پنځه لس کلنه پاچهي او له هغه څخه وروسته کالونو کښې، څه باندې شل ځله د سُبکري د نامه او کارنامو یادونه کوي . هغه په جنګونو او ښورښونو کښې د یوۀ لوے سپه سالار او پوځي مشر په حیث برخه اخلي او د دې معنې پخپله دا ده چې د هغه شاته باید دومره لوے او غښتلي قوم ولاړ وي چې سُبکري د هغوي په زور دومره لویو مقامونو ته رسېږي . سُبکري، په پرله پسې جنګونو او ښورښونو کښې، د بغداد د خلیفه المقتدر په شمول، دښمنان پیدا کړل. که څه هم چې د سامانیانو د پاچا احمد بن اسماعیل سره ئې جوړه وکړه او د هغه په خوښه ئې د مرو حکمراني ومنله خو خلیفه المقتدر له احمد بن اسماعیل څخه وغوښتل چې

سُبکري لاس ترېـلے بغداد ته ولېږي . احمد بن اسماعیل ساماني هم د خلیفه له امر سره سم هغه ونیوے او بغداد ته ئې واستاوۀ. (تاریخ سیستان ص ۲۹۶ )

له دې څخه وروسته په تاریخ کښې د سُبکري یادونه نه کېږي او سړے په یقین سره وئیلےشي چې په بغداد کښې به ئې په بند کښې ژوند پاے ته رسېدلے او یا به د خلیفه په امر اعدام شوے وي .

سلطان محمود په ۳۹۷ هجري قمري یا ۱۰۰۷ میلادي کښې د ملتان د حکمران ابولفتوح د ځپلو لپاره، چې اسماعیلیه عقاید ئې، چې سنیان د الحاد په سترګه ورته ګوري، غوره کړي ول او په خپل قلمرو کښې ئې تبلیغول، د لښکرو سره روان شو. په لاره کښې ئې هندو راجا جیپال ته، چې د ملتان د حکمران سره د مرستې لپاره ئې تیارے کړے وۀ، ماته ورکړه. د ملتان حکمران ابوالفتوح له خپلو خزانو سره سراندیپ ته وتښتېدے او ملتان د غزني د سلطان لاسته ورغے . (عتبي ص ص ۲۷۸- ۲۷۹ )

سلطان محمود لا په ملتان کښې وۀ چې په ۳۹۸ هجري یا ۱۰۰۸ میلادي کښې ، پر خراسان باندې د قره خانیانو د یرغل څخه خبر شو او د هغوي د مقابلې لپاره، په ډېر تلوار، روان شو نو د هندیانو، افغانانو، اوغوز، خلج او د غزني څخه محلي پوځیان ئې ورسره روان کړل . (بوسورتھ ص ۱۰۹ـ۱۱۰)

تاریخي شواهد، په تېره بیا مروج الذهب، ثابتوي چې خلجیان د اسلام څخه ډېر مخکښې په افغانستان کښې اوسېدلي او د کابل څخه نیولې تر غزني ، بُست او سیستان پورې ورشوګاني ئې نیولې وې او وخت په وخت ئې په جنګونو کښې مهمه برخه درلوده خو په تاریخ کښې ئې اهمیت هغه وخت لا زیات څرګند شو او د مورخینو او د وخت د لیکوالانو توجه هغه وخت ور واوښتله چې جلال الدین خلجي په دهلي کښې د سلطان غیاث الدین بلبن د کورنۍ سلطنت ته خاتمه ورکړه او پخپله ئې قدرت ونیوے .

ضیأالدین برني، چې وائي د دغو پېښو په وخت کښې څلور کالن ماشوم وو او د هغو پېښو او جنګونو په باره کښې ئې د خپل پلار او مشرانو څخه پوښتنې کړې دي او نورې پېښې ئې په سترګو لیدلې دي وائي چې کله سلطان جلال الدین فیروز خلجي، له دهلي څخه دباندې، په کیلو کهري کښې،

پر تخت کښېناست نو د ښار خلکو ته، چې تر دغه وخته پورې د ترکانو د حکومت تابع ول، د خلجیانو حکومت ناوړه ښکارېدے . ځکه نو سلطان جلا ل الدین هم د خلکو د عکس العمل له وېرې ښار ته نه داخلېدے او د ښار مشران او علماء به کیلو کهري ته ورتلل او هلته به ئې بیعت ورکاوۀ، خو خلک بیا هم حېران ول چې دا پاچهي د ترکانو د لاسه څرنګه د نورو لاسته ولوېده. (برني ص ۲۷۸)

له دې متن څخه، چې په وروسته کښې بدایوني ، ابوالفضل او فرشته په خپلو تاریخونو کښې ګټه ورڅخه اخیستې ده، په څرګنده ښکاري چې خلجیان او تُرکان دوه بېل قومونه دي او د هندوستان خلک، چې تر دغه وخته ئې د ترکانو سلطنتونه لیدلي او عادت ئې ورسره کړے وۀ، خلجیانو ته د یوۀ پردي او غطرمستحق قوم په سترګه کوري .

د جلال الدین منکبرني یا جلال الدین محمدخوارزم شاه منشي، نسوي لومړنے سړے دے چې د اوومې هجري پېړۍ په سر کښې د غلجیو نوم یادوي او له دۀ څخه څه باندې څلور سوه کاله وروسته خوشحال خان خټک دوهم سړے دے چې د ډهلي د لنډ تاریخ په قصیده کښې جلال الدین خلجي ته غلجے وائي او د غلجیو یادونه کوي .

بیا سلطان جلال الدین په سریر کېناست
چې په اصل کښي غلجي د ولایت وو

بیا له پسه فېروز شاه چې امرا وو
پرورش ئې د غلجیو په دولت وو

نسوي پر خوارزم باندې د چنګېزخان د یرغل په وخت کښې د سلطان علاء الدین خوارزم شاه لویه غلطي دا بولي چې خپله پوځي قوه ئې په لوے لاس سره تقسیم کړه او هر یوه ملک او سپه سالار ته ئې یوه خاصه سیمه وسپارله . ینال خان لعین ئې له شلو زرو سپرو سره اترار ته واستاوۀ، قتلغ خان ئې له لسو زرو سپرو سره د کنته ښار ته ولېږے او امیر اختیارالدین کُشلي امیر آخر او اغل حاجب اینانج خان ئې له دېرشو زرو پوځیانو سره بخارا ته او... دوه غلجي ملکان ئې خُتلان ته ولېږل

او.... په ماوراءالنهر کښې ئې هيڅ ښار بې زيات لښکره پرې نه ښود او دا ئې لويه خطا وه.... (نسوي ص ۵۴)

جويني، چې خپل مشهور او مفصل تاريخ ئې پر ماوراءالنهر، افغانستان، خراسان او بغداد باندې د مغول چنګيز خان او د هغه د لمسي هلاکو په زمانه کښې، په اوومه هجري پېړۍ کښې ليکلے دے، خلجيان، ترکمنان، غوريان، ترک او تازيک جلا جلا يادوي او په زړۀ پورې خبره دا ده چې مونږ ته په پېښور کښې، په هغه زمانه کښې، د خلجيانو د يوه امير نوح جاندار په باب اطلاع راکوي چې پنځه شپږ زره کوره ټبر ئې درلود. (جويني جلد دوم ص ۱۹۶)

دا وخت سلطان علاءالدين خوارزم شاه د چنګيزخان له لښکرو څخه په تېښته کښې وۀ او د هغه لايق او زړه ور زوے سلطان جلال الدين محمد خوارزم شاه د چنګيز خان په مقابل کښې مقاومتونه کول . په لومړي سر کښې خلجيان، ترکمنان، غوريان او ترکان، ټول په يوه غړي، له خوارزم شاه سره ملګري شول خو څرنګه چې د هغه د سلطنت وروستي ورځې راغلې وې او د چنګيز له ډېر لوے قوت سره ، چې د يوې ناڅاپي بلا او توپان شکل ئې درلود، مخامخ وو او لا ئې د پاچهي قانوني حېثيت هم له لاسه ورکړے وو نو په لومړي سر کښې د غوريانو او ترکانو تر منځ اختلاف راغے او غوريانو د هغوي ملکانو او مشرانو ته په زغرده وويل چې مونږ غوريان او تاسي ترکان ياست؛ مونږ يو ځاے ژوند نه شو سره کولے .( هغه کتاب ص ۱۹۳)

سره له هغه هم سلطان جلال الدين خوارزم شاه د پروان په جنګ کښې د چنګېزيانو لښکرو ته يوه سخته ماته ورکړه او ډېر زيات مالونه او آسونه ئې غنيمت کړل . د خلجيانو، ترکمنانو او غوريانو د جلال الدين خوارزم شاه له خوارزمي لښکرو سره د آسونو پر وېش باندې اختلاف راغے او د سلطان په لښکرو کښې بې اتفاقي ولوېده. د پوځ لوے مشران اغراق ملک، او اعظم ملک له ټولو خلجيانو، ترکمنانو او غوريانو سره، له خوارزم شاه څخه بېل او د پېښور خواته روان شول؛ او سلطان د تُرکو او خوارزمي قواوو سره پاتې شو او د غزني پر لور ئې حرکت وکړ .( هغه کتاب ص ۱۹۶)

د ترکمانو او خلجيانو تر منځ موقتي روغه جوړه هغه وخت پاے ته ورسېده چې د ترکمانو يوۀ مشر اغراق ملک د خلجيانو پر مشر نوح جاندار باندې ناڅاپي حمله وکړه او د هغه سرېو او زامنو د ترکمانو

مشر وواژۀ. د ترکمنانو لښکر، چې شمېر ئې تر خلجیانو زیات وو، د نوح جاندار پر مرکز باندې حمله وکړه او د خپلو زامنو او ټولو ملګرو سره ئې وواژۀ. په دې ضمن کښې د چنګېز خان سپه سالاران تکاجک او سید علاءالملک قندز ورباندې را ورسېدل او د خلجیانو، ترکمنانو او غوریانو ټول لښکر ئې تباه کړل . په دوو دریو میاشتو کښې ئې شل دېرش زره لښکر یا پخپل منځې جنګونو کښې او یا د چنګېزیانو په حملو کښې له منځه یوړل . (هغه کتاب ص ص ۱۹۷-۱۹۸)

جوزجاني هم ترک، خلج او غوز بېل بېل قومونه بولي . هغه د مغولو او جلال الدین منکبرني ( جلال الدین محمد خوارزم شاه او جلال الدین منکبرني دواړه د یوۀ سړي نومونه دي ج ) ترمنځ د جنګونو په باره کښې په یوۀ ځاے کښې لیکي« ... یو ناڅاپه د جلال الدین منکبرني او د هرات د ملک خان پوځونه غزني ته ورسېدل او د تُرک، او د غور د مشرانو او تاجکو، خلج او غوز لښکرې ورسره یو ځاے شوې او له غزني څخه ئې د طخارستان پر لورحرکت وکړ. د مغولو لښکرو ته ئې ، چې د والیان د قلا په شاوخوا کښې پراته ول، سخته ماته ورکړه او بېرته را ستانه شول . کله چې چنګېزخان ته د جلال الدین منکبرني، د هرات د ملک خان او د اسلام د لښکرو د غونډېدلو په باب خبر ورسېدے نو قونقونویان ته ئې، چې د چنګېزخان زوم وۀ، پر هغو باندې د حملې کولو وظیفه وسپارله . سلطان جلال الدین دې لښکرو ته د پروان په شاوخوا کښې ماته ورکړه او ډېر زیات کفار ئې دوږخ ته ولېږل . د مغولو لښکرو په دې توګه څو ځله ماتې وخوړې . د سلطان جلال الدین په لښکرو کښې د اِغراق څخه (د تُرکو یوه لویه قبیله ده جهاني) ډېر زیات سپارۀ ، چې ډېر ښۀ جنګیالي ول، ملګري ول او د خوارزمي عجمیانو سره ئې د غنیمت پر وېشلو باندې اختلاف راغے او د سلطان جلال الدین له لښکرو څخه بېل شول او سلطان له خپلو ترکو لښکرو سره یوائې پاتې شو.... »
(جوزجاني جلد دوم ص ۱۱۷-۱۱۹)

## خلجیان په هند کښې

د خلجیانو له توکم څخه لومړنے سړے چې په هند کښې د مسلمانانو د قدرت په زمانه کښې ورسره مخامخ کېږو محمد بختیار خلجي دے، چې د سلطان معزالدین ( شهاب الدین ) غوري په دربار کښې ئې چنداني لوړه مرتبه ترلاسه نه کړه او لږه موده وروسته ئې د ډهلي د پاچا سلطان قطب الدین ایبک

توجه ځان ته واړوله . د دوو سوو زغره والو عسکرو په مرسته ئې د بهار قلا فتح کړه او ټول برهمنان ئې ووژل . ویل کېږي چې د سلطان قطب الدین په مخ کښې ئې یو مست پیل په یوه ګُرز وتښتاوۀ او سلطان په هغه ورځ دونه انعامونه ورکړل چې اندازه ئې نه لګېږي او محمدبختیار هغه ټول انعامونه په هغه ورځ پر خلکو ووېشل . په لږ وخت کښې ئې د لکنهوتي، بهار، بنګ او کامرود ښارونه لاندې کړل . وروسته د لکهمنیه ښار ته، له ډېرو لږو ملګرو سره، د تاجر په جامه ننووت او چې خلک خبرېدل د بختیار لښکر ښار ته رسېدلے وۀ او ټول ښار ئې په لږه موده کښې فتح کړ . محمد بختیار له دې فتوحاتو څخه وروسته د تبت پر لور حرکت وکړ . په هغو جنګونو کښې چې په لاره کښې د پرتو ښارونو له هندو اوسېدونکو سره ئې وکړل، ډېر زیات ملګري ئې تلف شول . له څه باندې سلو ملګرو سره ایله ژوندے خلاص شو او نور ئې حالات په تیارۀ او افسانو کښې پټ دي . خو دونه معلومه ده چې له وروستیو پېښو څخه ډېر ژر وروسته وفات شوے وي .( جوزجاني جلد اول ص ص ۴۲۲-۴۳۲)

محمد بختیار پر کامرود او تبت باندې د حملې په وخت کښې، د محمدشیران او احمد شیران تر مشرۍ لاندې، خپل نور خلجي پوځي مشران د لکهنوتي او جاجینګر د ښارونو او قلاګانو د فتح کولو لپاره لېږلي ول . له دې پراخو پوځي عملیاتو څخه معلومېږي چې د محمد بختیار سره ملګري خلجیان، چې طبقات ناصري ئې د غور د ګرمسېر د سیمې او سېدونکي خلجي بولي، په ډېر لوے قوت او ډېر پخوا هند ته کوچېدلي وي چې په دوو لویو جبهو کښې د پوځي عملیاتو د کولو توان لري . دې دوو ورونو او نورو خلجي مشرانو د لکهنوتي، جاجینګر، بنګاله، نارکوتي او نورې پراخې سیمې لاندې کړې او څلورو سلطانانو ئې څه باندې شل کاله پر دې سیمو باندې پاچهي وکړه . د دې خلجیانو د وروستي سلطان غیاث الدین حسین خلجي او د ډهلي د سلطان شمس الدین التمش تر منځ د جګړې په نتیجه کښې د دواړو خواوو ترمنځ سوله وشوه او حسین خلجي د ډهلي سلطان ته اته دېرش پیلان او اته میلیونه روپۍ باج ورکړ او موافقه ئې وکړه چې خطبه به د شمس الدین التمش په نامه وائي . (هغه کتاب ص ۴۳۲-۴۳۸)

د پیلانو د شمېر او د باج له اندازې څخه ښکاري چې خلجیانو باید ډېره پراخه او شته منه سیمه په لاس کښې درلودلې وي، چې د سلطان په مقابل کښې د یوې ماتې په صورت کښې ئې د دومره

زیات باج ورکولو توان درلود . دوه کاله وروسته په شپږ سوه څلېرویشت هجري قمري ۱۲۲۶ میلادي کښې د سلطان شمس الدین التمش زوي ناصرالدین محمود، په داسي وخت کښې پر لکهنوتي باندې یرغل وکړ او هغه ښار ئې فتح کړ، چې غیاث الدین حسین خلجي د بنګ او کامرود د فتح کولو لپاره لښکرې ایستلې وې . له خپل مرکز سره د غیاث الدین خلجي رابطه وشلېده او له ښار څخه دباندې پاتې شو. د ناصرالدین محمود سره په جنګ کښې ئې ماته وکړه په نتیجه کښې غیاث الدین خلجي او له هغه سره ملګري خلجي امیران ونیول شول او غیاث االدین خلجي وروسته ووژل شو . (هغه کتاب هغه مخ)

له دې پېښو څخه څه باندې شپېتۀ کاله وروسته په ډهلي کښې د غور د خلجیانو د یوې بلې کورنۍ له سلطنت سره مخامخ کېږو، چې خوشحال خان خټک ئې غلجي بولي او څه باندې دېرش کاله ئې قدرت په لاس کښې وۀ. البته دې سلطنت او پاچهي د محمد بختیار خلجي او د هغه د ځاے ناستو خلجیانو له واکمنۍ سره هم د قلمرو او هم د قدرت له پلوه ډېر زیات توپیر درلود. د خلجیانو د لومړي سلطان جلال الدین خلجي د وژل کېدو څخه وروسته د هغه د ورارۀ سلطان علاء الدین خلجي د قدرت په شل کلنه دوره کښې د هغه قلمرو له ډهلي څخه نیولې، تر کشمیر، تر ملتان، تر دکن او بنګال پورې رسېدے. له دې دومره پراخ قلمرو او غښتلي سلطنت څخه معلومېږي چې باید بیا هم په سل هاوو زرو خلجیانو د خپل سلطنت د غښتلي کولو او په فتوحاتو او غنایمو کښې د برخې اخیستلو لپاره هند ته مهاجرتونه کړي وي. وئیل کېږي چې د هند په تاریخ کښې هېڅ سلطان دونه زیات فتوحات نه وو کړي . د هغه په زمانه کښې دونه زیات جوماتونه، منارونه، د اوبو ذخیرې، قلاګانې او ودانۍ جوړې شوې چې تر دغه وخته پورې هېڅ سلطان نه وې جوړې کړې .د هر هنر څښتنان او معماران، د هند له هرې برخې او نورو ممکو څخه ډهلي ته راغلل چې په تاریخ کښې ئې ساري نه وه. دغه راز هېڅ وخت په لوړو او کښته طبقو کښې په دغه اندازه ریښتینولي، د هندو اتباعو تسلیمي او اطاعت او د ښورښونو ځپل کېدل نه وه لیده شوي . په هېڅ وخت کښې په ډهلي کښې په دغه شمېر مذهبي عالمان، چې د نورې اسلامي نړۍ کست په کېدے، نه وه راغونډ شوې . په دې جمله کښې یو هم شیخ الاسلام شیخ نظام الدین اولیاء وۀ چې خانقاه ئې تل له عوامو او خواصو څخه ډکه وه. (نظام الدین لومړي ټوک ص ۱۸۵)

البته نظام الدين احمد، د جلال الدين اکبر د دربار د يوه مشهور مورخ او عالم په حېث، د خلجيانو د اصليت او سرچينې په باره کښې دونه غلط معلومات ورکوي چې سړے ورته هک پک شي . هغه وائي چې دۀ د تاريخ په معتبرو کتابونو کښې ليدلي دي (البته خپل مآخذ نه ښيي ج) چې د خلجيانو قبيله د چنګيزخان د زوم کليج خان اولاده ده. د کليج خان او د مېرمنې ئې اړيکې ښې نه وې خو د خپل خسر له وېرې ئې څه نه شو وئيلے. کله چې چنګېزخان وفات شو نو کليج خان د غور او غرجستان غرونو ته، چې ښۀ ورسره بلد وۀ لاړو. هغه سيمه ئې ونيوله او څه وخت وروسته ئې په ډهلي او مالوه کښې سلطنتونه منځته راوړل. (هغه کتاب ص ۱۳۲)

لومړے خو د يوۀ سړي اولاد په څه باندې سل کاله کښې دونه زياتېدلے نه شي چې بشپړ سلطنتونه جوړ کړي . دا خبره په هر صورت له امکان او احتمال څخه ليرې ده. دوهم دا چې مونږ د کلاسيکو متونو په حواله وايو چې خلجيانو له اسلام څخه قرنونه پخوا له سيستانه د کابل تر حدودو پورې ژوند او مقاومتونه کړي دي . د چنګېزخان او د هغه د زوم افسانه په ليکلو اولوستلو نه ارزي .

له بده مرغه چې مشهور انګرېز ليکوال ايچ ډبليو بيليو، چې د پښتنو په باب ئې ډېر زيات تحقيقات کړي او خپارۀ کړي دي همدغه تاريخي اشتباه تکراروي دے وائي چې له پټانانو او افغانانو سره د غلزيو په نوم يو بل قام نښلول کېږي. « ژبه ئې پښتو ده او ټول اداب او اطوار ئې د پښتنو دي او سني مسلمانان دي . مګر دوي له بله توکمه دي او ځانونو ته هم يواځي غلجي وائي... وئيل کېږي چې غلجيان په لسمه پېړۍ کښې له ترک سبکتګين سره دې سيمي ته راغلل او د ترکانو د خيليچ قبيلې استازي دي... » (بيليو ص ۲۲۰)

لومړي خو سبکتيګن پخپله د يوه غلام په حېث غزني ته راوستل شوے دے . له هغه سره په زرګونو ترکان له کومه راغلل؟ هېڅ تاريخي مآخذ د هغه د قبيلې په باره کښې اشاره قدر نه ده کړې چې مونږ هغه د قيليچ له قبيلې وبولو او له هغه سره قيليچيان يا د بيليو په حواله د غلجي سلطانانو پلرونه او نيکونه ملګري کړواو بله دا چې مونږ بيرته هغه خپله پخوانۍ خبره کوو چې خلجيانو په دې سيمه کښې تر هغه ډېر زيات ژوند کړے دے چې سړے ئې له چنګېز او سبکتګين سره وتړي .

په هر صورت په ډهلي کښې د خلجيانو د سلطنت له سقوط څخه څه کم دوه سوه کاله وروسته خلجيانو په مالوه کښې قدرت ونيوے . که څه هم چې د دې سلسلې د موسس او تر ټولو قوي پاچا سلطان محمود خلجي د قدرت ټول ۳۶ کالونه له نورو ورو او لويو واکمنانو او پاچاهانو سره په جنګونو کښې تېر شول خو په مالوه کښې ئې هم علمي او مذهبي ښودنو او هم ئې ابادیو او د لارو ساتلو او جوړولو ته بشپړه توجه وکړه. سلطان محمود خلجي حتي يو ځل د جونپور د نيولو او بيا د ډهلي د نيولو لپاره هم لښکرکښئ وکړې خو د ډهلي د پاچا له لوے سپه سالار بهلول سره ،چې وروسته سلطان بهلول لودي شو، سولې کولو ته مجبور شو او بل ځل ئې د ګجرات د نيولو لپاره سل زره سپاره عسکر روان کړل، او د ګجرات پاچا ئې، تر يوه جنګ وروسته، سولې کولو او باج منلو ته مجبور کړ . (نظام الدين دريم جلد ص ۵۲۲ )

له سلطان محمود خلجي څخه وروسته په څه کم سلو کالو کښې اتۀ خلجي پاچاهان قدرت ته ورسېدل، خو يوه ئې هم د سلطان محمود لياقت او پوځي استعداد نه درلود. د دۀ زوي غياث الدين، چې د پلار په ژوند کښې ئې په ډېرو زياتو پوځي عملياتو او لښکرکښيو کښې برخه اخيستې وه، د پلار له وفات څخه وروسته د دربار په ژوند او عياشي لګيا شو او په زرۀ پورې خبره دا ده چې ډېر زيات اداري او حسابي مسايل ئې ښځينه غلامانو او ښايستو نجونو ته ور وسپارل . وئيل کېږي چې يو وخت ئې په حرم کښې شپږ زره ښايستې ښځينه غلامانې يا مينځې درلودلې . (هغه کتاب ص ص ۵۴۴-۴۵)

د سلطان غياث الدين له دري دېرش کلن اوږده سلطنت څخه وروسته نور کالونه زياتره د ورونو او تربرونو ترمنځ په کورنيو جنګونو تېر شول؛ تر څو چې نوبت سلطان باز بهادر ته ورسېدے، چې ټول عمر ئې په ساز او ښکار او له خپلې ښايستې معشوقې راني روپ متي سره تېر شو او بالاخره جلال الدين اکبر د هغه له نيولو سره د مالوې استقلال ته خاتمه ورکړه او مالوه د اکبرې د لوي سلطنت يوه برخه شوه. راني روپ متي خپل ځان په زهرو ووژه او باز بهادر، تر مرګه پورې، د اکبر په دربار کښې د يوه لوي منصبدار او د موسيقي د چارو د مسول او مشر په حيث پاتې شو.

په بنګال، ډهلي او مالوه کښې د خلجيانو د دونه لويو سلطنتونو جوړول او دومره زيات او پراخ پوځي عمليات کول د دې معنې لري چې هند ته بايد ډېر زيات خلجيان کوچېدلي، په سل ګونو کالونه هلته په قدرت کښې پاتې شوي او ډېر زيات ئې ښايي تر پايه پورې هلته پاتې شوي وي .

## خلجيان بالاخره څه شول؟

په تقريبا ټولو تاريخي متونو کښې چې هر ځائے د خلجيانو نوم يادېږي نو يا د افغانانو نوم ورسره يو ځائے او يا ئې د فعاليت سيمه افغانستان ښودل شوے دے. له بلې خوا د خلجيانو نوم زياتره په لښکرکښيو کښې يادېږي او بالاخره ئې د همدغه پوځي لياقت، استعداد او زړه ورتوب په زور په هند کښې لوے سلطنتونه جوړ کړل. د هند خلجيان خو به په هند کښې پاتې شوي او په نورو قومونو کښې منحل شوي وي مګر د افغانستان خلجيان پر کومه ولاړل .

د ميجر راورټي په شمول ځينې مستشرقين په دې عقيده دي چې خلجيان افغانستان ته کوچېدلي ترکان دي؛ خو سر اولف کيرو بېل نظر لري . هغه وائي چې، له لومړي سره، د ترک غلامانو يا مملوک او د خلجيانو او افغانانو ترمنځ توپير موجود وۀ. دے وائي تر کان، لکه د عثماني امپراطوري د جان نثاريانو په څېر، د سلطان او يا د هغه د استازو له خوا په پيسو اخيستل کېدل او بيا به نو د کورنيو خدماتو لپاره ساتل کېدل . دوي يوائې واکمن ته مسوول ول . تنخواوې د دوي د خدمت ضروري بدل نه وۀ، که څه هم چې هوښيار واکمنان په دې پوهېدل چې د خپلو ځانونو د ښه ساتلو لپاره بايد چې خپلو غلامانو ته پر وخت او ښې تنخواوې ورکړي . ( کېرو ص ۱۲۷)

کېرو وائي په مقابل کښې خلجيان، چې په بېلو بېلو تاريخي متونو کښې افغانان يو ځائے ورسره يادېږي، اجير عسکر ول . دوي له هېڅ يوه ځانګړي سلطان سره خاص قوي اړيکې نه لرلې بلکه هر چا چې ډېري پيسې او زيات امتيازات ورکول له هغه سره تلل . که څه هم چې د هغوي خپل منځي قبيلوي اړيکې کله کله د واکمنانو لپاره خطرناک ثابتېدل ځکه چې دوي به زياتره قبيلوي اړيکې پاللې او د خپلو ملکانو او مشرانو پر خبرو او مشورو به ئې غوږ نيوے . (هغه کتاب هغه مخ)

کېرو وائي سلطان جلال الدين خلجي له ترکانو سره توپير درلودے، ځکه نو هغوي خپل نه بالۀ او دۀ هم په هغوي اعتماد نه شو کولے. دے سوال کوي چې خلجيان بالاخره څوک دي؟ دے

وائي زۀ دې نتيجې ته رسېدلے يم چې خلجيان سپين هونان يا هفتاليان دي چې مسلمانان ئې هياتله يا هيتل بولي ۰ مونږ پوهېږو چې هفتاليان له اسلام څخه ډېر قرنونه وړاندې د افغانستان ورشوګانو ته کوچېدلي دي ۰ دے وائي دا خبره ماته يقيني ښکاري چې خلجيان غوز ترکان نه دي ځکه چې غوز، که سلجوق او يا ترکمن نوم ورکوو، د غزنويانو په دوره کښې افغانستان ته کوچېدلي دي؛ په داسي حال کښې چې خلجيان له غزنويانو څخه ډېر پخوا په افغانستان کښې اوسېدل ۰ او حتي مخکښې له هغه چې اسلام د غزني شاوخوا ته رسېږي دوي هلته ميشته ول ۰ کېرو د خپلو تحقيقاتو په نتيجه کښې دې نتيجې ته رسېږي چې خلجي او غلجي يو شان دي او غلجيان د افغان قبايلو تر ټولو پراخ او لوے قام دے او دا نه شو کېدلے چې دومره لوے قام دے د سليمان د غرونو په يوه ګوښه کښې و اوسېږي ۰ دے وائي ټول متون دا ښايي چې هر کله خلجيان هندوستان ته داخل شول نو هلته دوي نه ترکان ول او نه ترکانو د خپلو په سترګه ورته کتل ۰ اولف کېرو هم د خوشحال خان هغه بيت ته اشاره کوي چې جلال الدين خلجي ته غلجي وائي. او ليکي چې ترکان يوائځې يوه وړه پوځي ډله او نازولي ول چې سلطان محمود او محمد غوري (سلطان شهاب الدين) استخدام کړي ول او باقي پاتې سوري او لودي پاچاهان غلجي پښتانه ول (هغه کتاب ص ۱۳۲)

سراولف کېرو د استناد لپاره د خوشحال خان هغي قصيدې ته اشاره کوي چې وائي.

د بهلول او د شېرشاه خبرې اورم
چې په هند کښې پښتانه وو پاچاهان

شپږ اووۀ پيړۍ ئې هسې بادشاهي وه
چه په دوي پورې درست خلق وو حيران

يا هغه پښتانه نور وو دا څه نور شول
يا د خداے دے اوس دا هسې شان فرمان

تر دې خبرو چې را تېر شو نو سړي ته دا سوال پيدا کېږي چې هغه خلجي چې د اسلام څخه مخکښې دلته اوسېدلي او په سل ګونو کالونه ئې دلته په پوځي عملياتو کښې برخه درلودلې ده بالاخره

څه شول . ځکه دا خو د نه منلو خبره ده چې دونه یو لوی قام دی چې له سیستان څخه تر هیلمند او غزني پورې پروت وي او دونه غښتلي او پراخ قوم دې وي چې په هند کښې درې لويې پاچهي جوړې کړي هغه دې یو مخ له خپل ټاټوبي څخه ورک شي او اوس دې په ټوله سیمه کښې هېڅ قوم او قبیله په هغه نوم نه یادېږي مونږ، د تاریخي متونو او شواهدو په اساس، حکم کولی شو چې خلجیان همدغه غلجیان دي چې د حجاج بن یوسف په وخت کښې له عبدالرحمن بن اشعث سره جنګېدلي او ان په هغه زمانه کښې ئې له سیستان څخه نیولې تر غزني پورې یادونه شوې ده؛ او د نوح جاندار په نوم یوائې یوه ملک ئې پنځهٔ شپږ زره کوره ټبر درلود . خلجیان له لویه سره ترکان نه ول او که ترکان وای نو خپله ژبه ئې په بشپړه توګه ځکه له لاسه نه ورکوله چې د افغانستان په ګاونډ کښې د ترکانو ډېر لوی لوی قومونه لکه سامانیان، سلجوقیان او خوارزمشاهیان موجود ول او له دوي سره ئې د ژبې او کلتور په ساتلو کښې بشپړه مرسته کوله. که خلجیان ترکان وای نو دوي پخپله، د تاریخي متونو په استناد، دومره زیات ول چې نه یوائې ئې خپل کلتور او ژبه ساتلی شوی بلکې پښتانه او په دې سیمه کښې اوسېدونکي قومونه ئې هم تر اغېزې لاندې کولی او لړترلږه ترکي ژبې کولی شوی . البته دا هم باید په یاد ولرو چې سامانیانو، سلجوقیانو او خوارزم شاهیانو هم ، د غزنویانو په څېر، خپلې ژبې او کلتور پرې ایښی او په دربارونو او قضا کښې ئې خبرې او لیک په فارسي ژبه وهٔ. البته دا خبره باید ورسره زیاته کړو چې خلجیانو، د نورو ترکي قومونو په خلاف، فارسي ژبه نه ده غوره کړې او یو مخ پښتانهٔ شوي دي. د دې خبرې پخپله دوې معناوي کېدلی شي: لومړي دا چې په هغو سیمو کښې چې تاریخي متونو د خلجیانو د اوسېدلو د مرکزونو په حېث اشاره ورته کړې ده، له دوي څخه مخکښې، دونه زیات پښتانهٔ اوسېدلي دي چې دوي ئې، په بشپړه توګه جذب کړي او په ځان کښې منحل کړي دي. ددې خبرې احتمال ځکه چنداني نه لیدهٔ کېږي چې تاریخي متونو، په دغو سیمو کښې چې د خلجیانو د فعالیت او جنګونو مخکې ښودلي شوي دي، د هغو پښتنو اقوامو نومونه نه دي ذکر کړي چې په هغو کښې د خلجیانو د منحلېدلو احتمال موجود وي . بل احتمال دا دی چې خلجیان، له لویه سره، تر کان نه بلکه د دې سیمې ځایي اوسېدونکي ول، چې نه ئې په فارسي او نه ئې په ترکي ژبه خبرې کولې او له ډېرو پخوا زمانو څخه، چې هېڅ تاریخي متن ئې یادونه نه ده کړې، دلته هستوګنه درلوده. د زماني په تېرېدو سره ئې په هند کښې د جاګیرداریو

او منصبونو د اخيستلو او په وروسته کښې د سلطنتونو د جوړولو سره، ژبه فارسي شوې ده او هغه چې له افغانستان څخه ئې کوچ نه دے کړے او دلته پاتې شوي دي، په نامه کښې ئې ډېر لږ تغير راغلے او له خلجي څخه غلجي شوي او خپله ژبه او کلتور ئې دواړه ساتلي دي .

دلته لا يوه بله مسله هم شته او هغه داچې کلاسيکو تاريخي متونو، خلج، ترک او افغان درې واړه په يوۀ ځائے کښې ياد کړي دي؛ چې دا شک ښخي له منځه وړي چې خلجيان به ترکان ول، بلکه مونږ دا وئيلےشو چې هغو قبايلو ته چې د هندوستان سره نيږدې پراتۀ ول هندو ګاونډيانو د افغان نوم ورکړے دے؛ او لکه مخکښې چې مو ووئيل پښتنو تر وروستيو وختونو پورې دا نوم نه دے منلے او خلجي هغه پښتانۀ دي چې له سيستان څخه تر غزني پورې پراخې ورشوګاني ئې نيولې او تاريخي متونو ئې يادونه کړې ده.

له بلې خوا هېڅ تاريخ دا نه ده ښودلې چې خلجيانو چېرې په تُرکي ژبه خبرې کولې . په افغانستان کښې ئې مثال نشته او په هند کښې د ډهلي، آګرې، دکن، بنګال، کشمير، جونپور او مالوې په ټولو دربارونو کښې په فارسي خبرې کېدلې او هرڅه تواريخ او اسناد چې مونږ ته په لاس راغلي دي په فارسي ژبه ليکل شوي دي . سر اولف کېرو هم دغه خبره کوي او وائي چې هېچا د سلطان جلال الدين خلجي د ژبې په باره کښې څه نه دي وئيلي . دا نه ده معلومه چې هغه خلجي وئيله، ترکي، فارسي او که پښتو ئې خبرې کولې . دے وائي هېچا د خلجيانو د سابقې او د کوم بل قوم سره د خپلويو او يا توپيرونو په باب څه نه دي ليکلي؛ او يوائځې دونه ئې وئيلي دي چې دوي ترکان نه ول او له افغانانو سره ئې يو ځائے ژوند کړے وۀ. (هغه کتاب ص ۱۳۲)

په دې برخه کښې يوه بله مهمه خبره دا ده چې ځينو معتبرو او پخوانيو تاريخي متونو په ځينو پوځونو کښې تُرکان او خلجيان دواړه ياد کړي دي او دا د دې خبرې ښه شاهدي ورکوي چې دا دوه قومونه سره بېل دي يا لږترلږه دواړه ترکان نه دي . مخکښې مو د مروج الذهب په حواله ووئيل چې عبدالرحمن بن اشعث په سيستان، بست او رُخج کښې د ترک، غوز، خلج او هند له ملوکو سره وجنګېدے. ګواکې ترکان او خلج دوه بېل بېل قومونه ول

دغه راز کله چې ایلک خان د سلطان محمود غزنوي په مقابل کښې د خُتن له پاچا قدرخان څخه مرسته وغوښتله او هغه هم د پنځوسو زرو پوځیانو سره د ایلک خان مرستې ته ودانګل او د آمو تر سیند را پورې ووت نو سلطان محمود د تُرک، خلج، هندو، افغانانو او غوز څخه یو لوے پوځ جوړ کړ او د بلخ په څلور فرسنګې کښې ئې تیارے ورته ونیوۀ . (عتبي ۲۸۴-۸۵)

روضته الصفا هم په دغه جنګ کښې د ترکانو، خلجیانو او افغانانو د قواوو یادونه کوي او له متن څخه په څرګنده معلومیږي چې تُرک او خلج دوه بیل بیل قومونه دي . (میرخوند ص ۵۹۲)

د مروج الذهب له متن څخه څرګندیږي چې ترکانو هم د سیستان او بُست سیمې ته له اسلام څخه مخکښې مهاجرت کړے دے او لا دومره غښتلي شوي دي چې د عربو د یوه زورور پوځ سره مقابله کولے شي. خو ترک او خلج ته د بیلو قومونو په سترګه ګوري .اوس نو که تاریخي متون تُرک او خلج دواړه ذکرولے شي نو د افغان او خلج ذکرول هم هېڅ د حیرانتیا خبره نه ده. هغسې چې د افغان د کلمې او نوم ریښه او منشاء چاته معلومه نه ده او مونږ یوائې دونه پوهیږو چې پښتنو هېڅ وخت ځانونو ته افغانان نه بلکه پښتانه وئیلي دي او د افغان او پټان نومونه پردیوورباندې ایښي او مونږ ته د تاریخي متونو له لارې را رسېدلي دي؛ دغسې د خلجي او غلجي د نومونو درک او ریښه هم چاته نه ده معلومه او دا هم څوک نه شي وئیلےچې دا قوم له کومې زمانې راهیسې د سیستان، بُست، غزني او زابلستان په ورشوګانو کښې اوسېدلي دے . که د سیستان، ګرمسیر، زابلستان، کابل او پېښور سیمو ته، له شمال څخه، د خلجیانو د کوچېدلو احتمال ومنو؛ او لکه د مروج الذهب په استناد چې وئیلےشو چې هغوي باید له اسلام څخه ډېر پخوا دغو سیمو ته کوچېدلي وي نو د هغوي د شمېر او د مځکو د پراختیا له مخې باید دا هم ومنو چې دغو سیمو ته د هغوي کوچېدل د آریایانو د عمومي کوچ یوه برخه وه او خلجیان د نني ورځې له غلجیانو څخه پرته، چې په نامه کښې ئې ډېر لږ تغیر راغلے دے، بل څوک نه دي.

انسایکلوپیډیا آف اسلام د خلج د کلمې او اصل په باره کښې ابهام تائیدوي او وائي چې دا ابهام زیاتره د لیکلو متونو څخه پېښ شوے دے. ځکه چې خلج او خلُّخ، چې یوه ترکي قبیله ده، تقریبا یو شان لیکل کېږي . دغه منبع له اسلام څخه مخکښې زمانه کښې، په یادو شویو سیمو کښې د خلج په

نوم قوم اوسېدلو ته اشاره کوي او د بوسورټ هغه نظر تائيدوي چې د هغوي رېښه اندوايراني ده او ښايي د ساکانو بقاياوي .

د خپلو خبرو په نتيجه کښې وئيلےشو چې د دې ټول ابهام تر ټولو لوے علت دا دے چې پښتنو تر نونسمي او حتي تر شلمې پېړۍ پورې خپل تاريخ نه دے ليکلي او مونږ مجبور يو چې يا د سيمې او يا د اروپايي مورخينو له ليکنو څخه حقايق را وباسو. د پرديو چې هر څه زړۀ غوښتې دي هغه ئې ليکلي دي او اروپائي محققينو او مستشرقينو، کله کله، په بشپړه بې پروائي، تکرار کړي او تائيد کړي دي .

## ماخذونه


۱: اصطخري، ابواسحق ابراهيم. مسالک و ممالک. تهران چاپ سوم ۱۳۶۸

۲: عتبي، ابونصر محمد بن عبدالجبار. ترجمه تاريخ يميني.تهران چاب سوم ۱۳۷۴

۳: بلخي، محمد بن خاوندشاه. روضته الصفا. تهذيب و تلخيص دکتر عباس زرياب. تهران چاپ دوم ۱۳۷۵

۴: نسوي، شهاب الدين محمد خرندزي زيدري. سيرت جلال الدين مينکبرني. تهران چاپ دوم ۱۳۶۵

۵: مسعودي، علي بن حسين.مروج الذهب و معادن الجوهر، جلد دوم. چاپ هشتم ۱۳۸۷

۶: جوزجاني، منهاج الدين بن سراج الدين معروف به قاضي منهاج سراج. طبقات ناصري جلد اول و دوم. کابل ۱۳۴۵

۷: برني، ضياءالدين. تاريخ فيروزشاهي، اُردو. څلورم چاپ لاهور ۲۰۰۴

۸: جويني، عطاملک علاءالدين بن بهاءالدين محمدبن شمس الدين محمد جويني . تاريخ جهانکشاي جويني جلد دوم . تهران چاپ سوم ۱۳۶۷

۹: Bosworth, Clifford Edmund. The Ghaznavids. New Delhi 1992

۱۰: Caroe, Sir Olaf. The Pathans. Karachi, 1985

۱۱: Ahmad, Khwaja Nizamuddin. The Tabaqati Akbari. Vols, first and third. New Delhi 1992

۱۲: تاريخ سيستان. نويسنده نامعلوم. به تصحيح ملک الشعراء بهار. تاليف در حدود ۴۴۵-۷۲۵ هجري قمري. چاپ پيک ايران ۱۳۶۶ چاپ دوم.

۱۳: Bellew,H.W. Afghanistan and the Afghans. Delhi. Shree Publishing House. Reprint 1982.

۱۴: Encyclopaedia of Islam.